AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست
۲۰۲۴/۱۰/۱۹

# لرغوني خانقاه

یارانو،
هغه ورځ مې یوه لنډه ویډیو خپره کړه چې زه په زرنج (درې ټایره، نقلیه واسطه) کې ناست وم. ملګرو بیلابیلي تبصرې وکړې؛ خو دوی له دې نه ول خبر چې زه د کومې خزانې لیدلو ته روان وم.

دا ماډل نقلیه وسایط زموږ په ختیځ کې هم فعالیت کوي؛ خو هلته بادې لري. دلته بیا سر خلاصي دي؛ دواړو غاړو ته پکي اوږدي، نرۍ خو پستي څوکۍ ایښودل شوي دي او همدي بې بادۍ زرنج کې نران، ښځې او ماشومان سفر کوي.

پر کوم سړک چې موږ روان وو؛ دا د بلخ ولسوالۍ له مرکزه د مولنا جلال الدین بلخي، کلي ته غځېدلی دی. بلخ ولسوالۍ د مزارشریف لویدیځ ته پرته ده چې له همدې ښاره ورته شاوخوا نیم ساعت د تیز رفتاره موټر مزل دی او ۴۰ افغانۍ کرایه ده.

موږ د بلخ ولسوالۍ له مرکزه، د مولنا جلال الدین بلخي کلي ته روان شوو .دلته د هغه اوږده او لرغوني دیوال پاتي شووني هم ښکاري چې یو وخت له ام البلاد (بلخ) را تاو و او په منځ کې یې د علم او عرفان داسې ډیوی بلې وې چې نورو خلکو ترې رڼا په پور اخیسته. چې څومره نږدې کېدو، حالات بدلیدل، شاوخوا اشیاو ژبې پیدا کولې، هره یوه ناري وهلې:

"جانا به خرابات آ، تا لذّتِ جان بینی
جان را چه خوشی باشد، بی صحبتِ جانانه؟"

د زړه په غوږونو د مولنا دې نارو مې شیبه په شیبه تلوسه زیاتوله او دا لنډ مزل یې راته بیخي اوږد کړ. بالاخره د سړک تر غاړې له زرنج ښکته شوو. مخامخ د خاورو ځلی ښکاریده.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ښه ور ځیر شوم، د سر د سترګو په ځای مې د زړه سترګې وا شوې: ما لیده چې سپینو جامو کې تاو، دستار په سر سپین ږیري سلطان العلماء بهاوالدین ولد، خپل کوچنی زوی جلال الدین بلخي له کچې ګوتې نیولی او زموږ هرکلي ته را روان دی.

ما د مولنا د پښو غږونه اوریدل او هغه وخت مې د زړه سترګو ته نږدې نږدې کیده، چې په ورو ورو ګامونو به همدې خانقاه ته روان و.

مولنا به ایله دولس کلن و چې پلار یې خپل کلی پریښوده (۱۲۱۸ع ) او جلا وطنی ته اړ شو. هغه وخت هم، څوک په رضا له ملکه نه تلل. د دې ترخه مهاجرت تر شا دوه توری بلاوې وې؛ یوه د وخت له واکمن سلطان محمد خوارزمشاه سره د مولنا د پلار خپګان او بل، سیمې ته د چنګیزي خونړیو لښکرو د راتګ خبر. همدا لاملونه ول چې د مولنا د پلار تر پښو لاندې یې ځمکه سور اور کړه. خپل خوږ کلی، خپله خانقاه، خپل جاه و جلال او هر څه یې پرېښودل او له کورنی سره ایران، عراق او بیا همداسې ننني ترکیې ته ولاړه.

مولنا ته جلا وطني داسې اور شوه چې شیبه په شیبه یې د ده هډونه سوزول. مولنا، دغه درد (که څه هم عرفاني تفسیر یې جلا دی) په نی کې پوه کړ، نی یې ګویان کړ او بیرته یې خپل درد ترې اوریده او نور یې هم د دې درد اوریدلو ته رابلل:

"بشنو این نی چون شکایت می‌کند
از جدایی‌ها حکایت می‌کند

کز نیستان تا مرا ببریده‌اند
در نفیرم مرد و زن نالیده‌اند

سینه خواهم شرحه شرحه از فراق
تا بگویم شرح درد اشتیاق

هر کسی کو دور ماند از اصل خویش
باز جوید روزگار وصل خویش"

د مولنا د پلار د خانقاه پاتې شوونو ته ورسیدم. لپاسه پرې یو فلزي سایبان ولاړ دی. دا وروستی نښې نښانې د پناه کیدو په حال کې دي. د دې خانقاه هر نړیدلي دیواله د حال په ژبه خبرې کولې؛ خو په داسې انداز لکه یو ماشومام چې مرور وي. دیوالونو ویل:

شاوخوا اته سوه کاله وړاندې موږ په غیږ کې کتابونه نیولي ول. دلته د وخت غني کتابتون و. دلته اهل عرفان راټولیدل. دلته د معرفت ډیوې بلې وې، دلته علمي بحثونه کیدل، دلته په ذکر د پریشانه زړونو اطمنان حاصلیده، دلته... دیوالونه غریو نیولي شول، په سلګیو سلګیو یې خبره وغځوله: خو اوس...

شیبه پس خاموشي خوره شوه. نري باد شاوخوا سپیرې خاورې بادولې. لږ وروسته یوه مخامخ دیوال خبره راواخیسته: نیوهیړم په دې خلکو څه وشول؟ دا غلطه ده چې تمدن مخ په بره روان دی، اته سوه کاله وړاندې چې دلته کوم مدنیت و او د کوم مدنیت نښې چې د خلکو په کړنو کې ښکاریدې؛ هغه نشته. موږ کلونه کلونه په دې تمه ولاړ یوو چې ګوندې یو څوک راشي، زموږ پر مخونو د ماضي حک شوي خواږه داستانونه ولولي، زموږ ساتنه وکړي او... نور مو د دریدو وس نشته، نور ړنګیږو...

ژړ یو ګام شاته شوم. د پام غلطولو لپاره مې هلته له ولاړو ماشومانو پوښتنه وکړه. د همدې کلي ول. ما ویل مولنا جلال الدین بلخي پیژنئ؟ د خاورو له دې ځلی خبر یئ؟ ټولو د (نه) سر وخوځاوه.

په وچه ځمکه د اندیښنو په دریاب کې غرق شوم؛ ما ویل موږ چې نوی نسل حتا د خپل کلي له ویاړونو دومره ناخبره لویوو؛ نو بیا ترې څه ګیله؟ همداسې پریشانه ولاړ وم. مخامخ دیواله ته ځیر شوم، دیوال په یوه لوی سکرین بدل شو، مولنا موسکی شو، بیا یې سترګې ډکې شوې او په سوزوونکي انداز یې وویل:

"یک سینه سخن دارم، هین شرح دهم یا نِه؟"
ما ویل: نه، نه، پام مولنا، د اوریدلو وس یې نه لرم!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پښتو مې سستې کوله. ورو ورو په شا روان وم. په يوه موټرسايکل سپور مې نظر پرېوت. غالباً، مرتضى نوميده. ايرانى سياح و، په منځنۍ اسيا ګرځيدلى و او بيا د بلخ د خانقاه د ګل شويو ډېوو ايرو، ځان ته را کش کړى و. ما ايراني ته نشواى کتلى، ما ويل، دا به زموږ د بې قدرو له وطنه، زموږ د غفلت څومره ترخې خاطرې يووسي. ما ويل، دا بې خبره به د خپل دعوه ګير وطن دا ادعا سمه وګڼي چې مولنا زموږ دى، که د افغانستان واى؛ اوس به يې يادګارونه په دې حال وو؟

مولنا، زما پريشاني درک کړه، موسک شو او بيا يې ويل:

**"بلخی ام، من بلخی ام، من بلخی ام**
**شور دارد، عالمی از تلخی ام"**

---

نوټ: ١
متن کې راغلي بيتونه د همدې مولنا جلال الدين بلخي دي،

بل نوټ: ٢
د بلخ نوري کيسې درته وکړم؟؟؟؟؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ